پوهنمل دوکتوراندوس رحمت ځواکمن ۲۰۲۶/۰۱/۰۳

# زموږ د هیواد او ګاونډیانو د زده کړو پرتلیز حالت

## لومړی برخه

افغانستان یو داسي هیواد دی چې په تیرو څو لسیزو کې له جګړو، اقتصادي ستونزو، سیاسي اړودوړ او ټولنیزو ناخوالو سره مخامخ شوی دی . په دې هیواد کې د یوه دایمي ثبات، ټیکاټي سولي ، بشري پرمختګ او سوکالی لپاره معیاري او متوازني زده کړې ډیرې مهمې دي، په کار ده چې، له بل هر سکتور ورته زیاته پاملرنه وشي او ورباندې پانګونه وشي.
د ښووني او روزني په پراختیا سره، په افغانستان کې اقتصادي، ټولنیزې او کولتوري ننګوني حل کیدلای شي. دا چې زده کړې زموږ په هیواد او زموږ په ګاونډیو هیوادونو کې په کوم حالت کې دي،
مخکې له دې چې د ځنو ارقامو او شمیرو پر بنسټ یې سره پرتله کړو، ښه به وي چې لومړی د زده کړو اهمیت او په افغانستان کې یې ځنو ستونزو ته اشاره وکړو:

### ۱. د فردي پرمختګ لپاره د زده کړو اهمیت

په افغانستان کې، د زده کړو پر پراختیا ټینګار د فردي پرمختګ لپاره ډېر مهم دی. په داسي یوه ټولنه کې چې ډېری وګړي یې له فقر، بېوزلی او بې کاري سره مخ دي، زده کړه کولای شي لکه د یوې دروازې په توګه کار ورکړي او د پرمختګ لپاره لاره پرانیزي. د زده کړو په وسیله، وګړي کولای شي چې د نوي ژوند فرصتونو ته لاسرسی پیدا کړي.
همدارنګه زده کړه د فرد یا یوه وګړي وړتیاوې لوړوي او له دې لارې هغه د ښه مسلک او ښه ژوند کولو لپاره ښه فرصتونه ترلاسه کوي.
د یو ښه تعلیم لرونکي او روزل شوي ځوان لپاره د ښه کار موندل او خپل ځان ته یوه روښانه راتلونکې جوړول ډېر اسانه کیږي. د دې ترڅنګ، یو غوره او متوازن تعلیمي سیستم د یوې ټولنې فکري ظرفیت پراخوي، او په دې توګه ټولنه کولای شي په ملي او نړیواله کچه پرمختګ وکړي.

### ۲. زده کړې د ټولنیز پرمختګ او ټولنیز انصاف یا عدالت لپاره

د افغانستان په څېر په یوې بې وزله او جګړه ځپلې ټولنه کې، زده کړه ټولنیز انصاف او برابری ته وده او پراختیا ورکوي. د جنسیت پر بنسټ توپیرونه، قومي او مذهبي اختلافات، او د ماشومانو حقونو ته د نه پاملرنې مخه نیسي او زده کړه کولی شي په دې ټولو برخو کې مثبت بدلونونه رامنځ ته کړي.
د ښځو او نجونو لپاره د زده کړو د فرصتونو پراختیا نه یوازې دا چې د هغوی د شخصي پرمختګ سبب کیږي ، بلکه د ټولنې په کچه د جنسیت پر بنسټ توپیر هم کموي.
کومې ټولنې چې ښځې او نارینه یې په مساوي توګه د زده کړو فرصتونه لري، هغه ټولنې پرمختللې او عادلانه ګڼل کیږي. پر دې سربېره، د ماشومانو ښووني او روزني ته پاملرنه، د دوی د راتلونکې لپاره د بنسټیزو حقونو د تأمینولو لامل هم ګرځي.

### ۳. د اقتصادي پرمختګ لپاره د زده کړو اهمیت

افغانستان یو داسي هېواد دی چې، زیاتره وګړي یې د اقتصادي ستونزو سره مخ دي. د بېکاری کچه په کې لوړه ده او د اقتصادي ودې او لازم پرمختګ لپاره په کې مناسب مهارتونه شتون نه لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د زده کړو پراختیا د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره یوه بنسټیزه اړتیا ده. کله چې خلک د زده کړو له لارې مسلکي مهارتونه ترلاسه کوي، بیا دوی کولا ی شي چې په بازار کې د کار فرصتونو ته وده ورکړي، او د خپلې ټولنې د اقتصادي حالت په ښه کولو کې برخه واخلي.
سربېره پر دې، یو ښه تعلیمي او تحصیلي سیستم یا نظام، د ټکنالوژۍ او نوښتونو لپاره د خلکو پوهه زیاتوي، چې دا کار بیا هم په خپل وار سره د اقتصادي پرمختګ او سوداګرۍ د پراختیا وسیله او سبب کیږي.
نو له همدې امله ویلای شو چې ، د تعلیم او تحصیل پراختیا په افغانستان کې د ملي اقتصادي پرمختګ یوه مهمه برخه ده.

**۴. د ټولنیز نظم او سولې لپاره د زده کړو اهمیت**

د افغانستان په څېر هېوادونو کې چې دا څو لسیزې په کې سختې جګړې تیرې شوی دي او تاوتریخوالي په کې زیات دي، زده کړې د سولې او ټولنیز نظم لپاره یوه غوره او اساسي وسیله ده. کله چې د ټولنې وګړي په تعلیمي او تحصیلي پروګرامونو کې برخه اخلي، د هغوی فکري افق او لرلید پراخیږي، او په دې توګه د کړکیچ د مخنیوي او د شخړو د حل لپاره د خبرو اترو، تفاهم او سولې پروسې ته ښه رغنده فرصتونه برابروي.
همدارنګه زده کړه د ټولنیز پوهاوي د پراختیا سبب ګرځي. کله چې خلک د خپلې ټولنې او نړۍ په اړه ژوره پوهه ولري، نو بیا دوی کولای شي چې، د مختلفو کولتورونو او قومونو ترمنځ توپیرونه کم کړي او د یو بل درناوي وکړي. همدارنګه د همکارۍ او سولې لپاره پراخه لارې چارې ولټوي او ومومي.
۵. د افغانستان د ښوونیز نظام چیلنجونه او ننګونې
د افغانستان ښوونیز نظام له رنګارنګ ننګونو او مختلفو چیلنجونو سره مخ دی. د جګړو او امنیتي بحرانونو له امله، ښوونځي او تعلیمي بنسټونه له زیان سره مخ شوي دي او په تیرو نا امنو کلونو کې په ډیرو جګړه ځپلو سیمو کې ، ټولو ماشومانو زده کړو ته لاسرسی نه درلود او ښوونځي ته تګ نا ممکن و. له همدې امله اوس ډیره اړینه ده چې، د هغو جګړه ځپلو او پخوانیو نا امنو سیمو ښوونیز نظام ورغول شي او ورته لومړیتوب ورکول شي، تر څو د هیواد ټول ماشومان د ټولنیز پرمختګ په بهیر کې ورګډ شي او د زده کړو له محرومیت او بې وزلۍ وژغورل شي.
همدا رنګه زموږ په هیواد کې د زده کړو د کیفیت کچه هم ټیټه ده. یو شمیر ښوونکي لکه څرنګه چې په کار ده، هغه ډول نه دي روزل شوي، اغیزمنې لوړې زده کړې یې نه دي ترلاسه کړي او د درس ورکولو لازم مهارتونه او پوهه نه لري.
پر دې سربېره، د افغانستان په کلیوالي او لیرې پرتو سیمو کې ، په ټول کې زده کړو ته لاسرسي نیمګړي و، خو په ځانګړې توګه د نجونو لپاره د زده کړو فرصتونه ډیر کم و او له بده مرغه چې په دې وروستیو کلونو کې د نجونو لپاره له شپږمو ټولګیو پورته زده کړې نورې هم له ځنډ او خنډ سره مخ شوی دي. همدارنګه د مسلکي ښوونکو د کمښت ترڅنګ د غوره درسي وسایلو، موادو او ښه چاپیریال یا د ښونځیو د مناسبو ودانیو نه شتون هم غټې ننګونې ګڼلای شو .
دا یادې شوی او دې ته ورته نورې ډیرې ستونزې د افغانستان د تعلیمي او تحصیلي سیستم او نظام د پراختیا پر مخ کې خنډونه دي، چې په کار ده ورته د حل لارې چارې ولټول شي.
په دې توګه ویلای شو چې زده کړې د افغانستان د فردي، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره اساسي او بنسټیزه اړتیا ده. د زده کړو پراختیا نه یوازې دا چې د افغانانو د ژوند کیفیت او څرنګوالی لوړوي، بلکه د ټولنې په کچه د سولې، عدالت او اقتصادي پرمختګ سبب او لامل هم ګرځي.
څرنګه چې د افغانستان د ښوونیز او تحصیلي نظام پراختیا او پرمختګ له څنو جدي ستونزو سره مخ دی، نو د دې ستونزو او ننګونو حل باید د حکومت، نړیوالو مرستندویه ادارو او د ټولنې د ټولو وګړو په ګډو هڅو سره ترسره شي.
په ښوونه او روزنه کې پانګونه نه یوازې د یوه فرد، بلکه د ټولنې او ملت د پرمختګ لپاره یوه داسې پانګه ده چې، په پایله کې یې ټول ولس او هیواد ته ګټه رسیږي
د دې لیکنې په بله برخه کې به زموږ د زده کړو حالت په کاونډیو هیوادونو کې د زده کړو له حالت سره، د څنو شمیرو پر بنسټ پرتله کړو، تر څو د خپل هیواد د زده کړو حالت د سیمې په هینداره کې وګورو او د خپلو سیمه ییزو سیالانو له ښوونیز حالت هم خبر شو.

نور بیا !
پوهنمل دوکتوراندوس رحمت څواکمن
۰۲- ۰۱ - ۲۰۲٦/ هالند


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ